سلطان جان کلیوال ۲۰۲۱/۰۹/۲۵

# دا افغان ولس به کله مسلمانیږی؟

سردار محمد داوود خان د خپل کاکا په زوی او اوبنې محمد ظاهرشاه باندی کودتا وکړه او هغه یی د قدرت نه معزول او د هیواد واک یی په خپل لاس کی ونیوه، کله چی یی د حکومت کابینه اعلان کړه، نو د اعلان سره سم په هیواد کی موجود د اسلامی غورځنګ مشرانو په کابینه کی د ځینو وزیرانو شتون سم و نه ګڼانه او هغه یی د پخوانی شوروی اتحاد جاسوسان او یا کمونستان و بلل. د همدی درک سره سم د اسلامی تحریک ځنی مشران لکه استاد برهان الدین ربانی، انجنیر ګلبدین حکمتیار، احمدشاه مسعود او نور د هیواد نه و وتل او پاکستان ته د مخالیفینو په څیر و لاړل او ځنی غړی یی د همدی مخالفت له کبله بندیان او تر اشد مجازات لاندی هم راغلل، لکه انجنیر حبیب الرحمان چی په اعدام محکوم شو.

دی اسلام پالو ډلو د توان په اندازه د پاکستان د دولت په مرسته د سردار محمد داوود خان د جمهوریت په وړاندی هیواد په ځینو برخو کی وسله وال بریدونه هم وکړل خو څه ګټه یی و نه کړه او په هر ځای کی د ماتی سره مخامخ شول. خو مهمه داده چی دی اسلامی ډلو ولی د داوود خان په جهوریت حملی کولی؟ ځکه چی ویل یی دا جمهوریت د کمونستانو له خوا رهبری کیږی، دلته کفر رر راوان دی او اسلام په خطر کی دی.

پنځه کاله وروسته د افغانستان د خلکو د دیموکراتیک ګوند (خلق او پرچم) د یوی خونړي وسله وال پا ځون په نتیجه کی د سردار داوود خان جمهوری رژیم نسکور کړ او د یوه دموکراتیک جمهوری دولت د جوړیدو اعلان یی وکړ. د دی ډلی د قدرت د رسیدو نه وروسته نه یواځی افغان اسلامی ډلو بلکی ټولی اسلامی نړیَ دا ومنله چی افغانستان د شوروی کفری غیږی ته ولویده باید په مقابل کی جهاد او وسله وال مقاومت وشی. د افغانستان، پاکستان او سعودی عربستان د ملایانو او دینی عالمانو له خوا د جهاد فتواوی صادری شوی او په ټول هیواد کی ګرمه جګړه پیل شوه. د هیواد نه میلیونونه هغه افغانان چی کولای شول نورو ملکونو ته مهاجر شول او هغه چی د مهاجرت امکان ورته نه و او یا یی نه غوښتل چی مهاجر شی په هیواد کی پاتی شول. خو د وخت په تیریدو خصوصاً د شوروی د نظامی تجاوز نه وروسته د افغان مهاجرو په منځ کی د جهاد په نوم لوی او وړی ډلي جوړي شوي او د نړیوال مرستی هم ورته پیل شوی. جهادی ډلو ته داسی درس ورکړ شو چی په افغانستان کی ټول اوسیدونکی کافر، واجب القتل دی او مباح الدم دي.د همدی روحی ی په لرلو د افغانستان ټول ښارونه، کلی، باندي او دري د مجاهدینو د حملو او راکټی ګزارونو لاندی راغلل، افغان ولسونه د روسانو له خوا له دی کبله چی اشرار ( مجاهدین ) دي هره ورځ د درنو بمباریو لاندی راتلل او هم د مجاهدینو له لوری د دی کبله چی کافر او ملحدین دی په مرګ محکومیدل.

بلاخره مجاهدین بریالی شول، کمونست پلوه حکومت شقوط وکړ، په ټول هیواد د مجاهدینو بیلي بیلي ډلي حاکمی شوی او په هره کوڅه او هره دره کی بیلي بیلي پاچاهي جوړي شوي، خو له بده مرغه افغان ولس لاهم مسلمان ونه شمیرل شو او د مجاهدینو د قدرت د پاره جنګونه هم د اسلام د حفاظت د پاره جهاد و نومول شو چی تر ټولو ښه نمونه یی د احمدشاه مسعود، ګلبدین حکمتیار، رشید دوستم، عبدالعلی مزاری، عبدالرب رسول سیاف او نورو تر منځ د کابل د ښار په بل مخ اړول، د هیوادی ټوله شتمنی، د خلکو شخصی دارایی، د وسله وال پوځ ټول وسایط د کباړ به بڼه پاکستان ته نقلول او یواځی د کابل په ښار کی نژدی سل زره تنونو ته مرګ ژوبله اغوښتل او په سلګونو زره نور له خپلو سیمو نه

بې ځايه کيدل او بيا مهاجرت ته مجبوريدل يي يوه ښه نمونه ده. خو له بده مرغه بيا هم افغان ولسونه مسلمانان و نه ګڼل شوو.

دا دوره د ټولو بدبختيو سره لا په درز کی روانه وه، چی د اسلام يو بل ژغورونکی ګروپ د طالبانو په نوم د پاکستان نه د شرعی اصولو د تطبيق په منظور د مجاهدينو په سر را نازله شوه او په لنډ وخت کی په پرله پسی توګه فتحه او نصرت نصيب شو او د استاد ربانی او حکمتيار جهادی ډلی يی د قدرت نه لری کړل او د امارت اسلامی په نوم د يوه نوی او خالص اسلامی نظام چی په نوره نړۍ کی مثال نه و، اساس ګزاری شو. د دی نظام په وړاندی لا هم د احمدشاه مسعود په مشری د مقاومت  په نوم د اسلام د حفاظت د پاره مبارزه روانه وه چی د يوګندا او تانزانيا په هيوادونو کی د القاعدی د سازمان له لوری د امريکا په سفارتونو ګزارونه وشول، چی په ځواب کی دبل کلنتن اداری په افغانستان کی د دی ډلی په تربيه وی مرکزونو  هوايی بريدونه وکړل، لوبه لاختمه نه وه چی د امريکا د نيويارک په ښار کی په لوړو تجارتی بلډنګو او د دفاع د وزارت په ودانيو باندی حملی وشوی او امريکا د دی کار مسؤل بيا هم د القاعده ډله و ګڼله او په همدی بهانه يی په افغانستان نظامی حملی وکړی او طالبان له قدرت نه لری کړل، د شمالی ټلواله او د غربی تيکنو کراتانو يوه ګډوله اداره يی د حامد کرزی په مشری په کابل حاکمه کړه. خو له بده مرغه افغان ولسونه لا هم هماغسی کافر پاتی شول او بيا د پاکستان د ملايانو له خوا په دی ولس باندی د جهاد کول واجب و ګڼل شول.

د جهاد داجګړه بيا د ماتو شوو طالبانو له خوا د پاکستان په مرسته له سره پيل شو، امريکا يو اشغالګر هيواد، افغان حکومت يو لاس پوڅی حکومت او د غربی دموکراسي انتقال افغانستان ته يو کفری عمل و ګڼل شو. د جهاد په دی مرحله کی بيا هم د حکومتی دستګاه نه لوی زيانونه او د سرو مال خسارات ولسونو او ولسی خلکو ته ورپيښ شو. شل کاله وروسته امريکا بيا  ( البته د خپلو ګټوله مخی ) خپلی خطی مشی ته تغير ورکړ د افغان ولس د پوره ذليل کيدو، وژنو او بربادیو وروسته يی ( ممکن د پاکستان د هيواد د مشورو په اساس) د طالبانو سره د نژدی دوه کالو په اوږدو کی خبری اتری وکړی او وعده يی ورسره وکړه چی بيرته به يی قدرت ته رسوی. همداکار وشو او د روان کال د اګست د مياشتی له (۱۵) نيټی را په دی خوا طالبان يا د اسلام د مبارک دين اصلی ساتونکی او ژغورونکی بيرته د افغانستان د خاوری او خلکو واکمنان او زمامداران شول، خو لا هم دا ولس پوره مسلمان نه ښکاری او دادی د احمدشاه مسعود زوی چی اوس را زلمی شويدی د خپل مرحوم پلار په قدم ، قدم کيښود او د دويم مقاومت اعلان يی وکړ. ما د هغه خبری واوريدی هغه د بلی هری خبری نه په دی خبره ډير ټينګار کاوه چی طالبان د اسلام ضد کړه وړه تر سره کوی نو مونږ بايد د وطن او د اسلام عزيز د تحقق د پاره مبارزه وکړو.

ورسره په څنګ کی د داعش ډله هم لګيا ده د اسلام د مبارک دين د تحقق د پاره مبارزه کوی او نامسلمانو طالبانو او ولسی کفارو نه سرونه غوڅوی. تر ټولو غوره خبره خو لا داده چی دا ټول اسلام ګټونکی د يوه ادرس يعنی د پاکستان نه د افغان ولس د مسلمان کيدلو د پاره را ليږل کيږی. ټوله دنيا يی وينی خو بيا هم پاکستان ته هيڅوک نه وايی چی مه! نور بس دی. خو تکليف ورځ تر بلی په افغان ولس ور زياتوی.

اوس اساسی پوښتنه او لوی تشويش دادی چی ايا دا ملت چی د نن نه ۱۳۵۰ کاله مخکی يو مسلمان ولس پيژندل شويدی او تر ننه هم په همدی باورونو کلک ولاړ ی دی، کله به داسی مسلمان شی چی د دی اسلام ژغورونکو ډلو د تائيد وړ وګرځی؟؟؟ ( والله اعلم)



برای مطالب ديگر سلطان جان کليوال روی عکس کليک کنيد